# د غني خان د حسن تصور
# Ghani Khan's Concept of Beauty

جاوید اقبال اقبال* نصرالله وزیر†

**Abstract**

This research paper through discussion, poetic examples and arguments highlight the concept of beauty in Abdul Ghani Khan's poetry. The researcher shows how Ghani Khan in his verses depicts the Beauty found not only in Nature but also has deep in sight into the beauty found in man's soul. The poet observes and portrays not only the physical beauty but also reflects and perceives the spiritual reality that is hidden within. All this is presented in the poet's unique style that is enriched by the richness of his thought.

د حسن مطالعي ته د جمالیات نوم ورکړے شوے دے ځکه د حسن و جمال په فرق هم څۀ وئېل په کار دي - د حسن مختلف تعریفونه شوي دي چې څوک ورته حسن وائي او څوک جمال - خو حسن عموماً په معنویت کښې لټولے شي او جمال په ماده کښې - په نورو ټکو کښې به دا ووایو چې د معنوي ښائست نوم حسن دے او د مادي ښائست نوم جمال دے او بیا د ښائست د دغو دواړو مادي او معنوي اړخونو د مشاهدې او مطالعې نوم جمالیات دے - بام ګارټن ورومبے دانشور دے چې دغې مشاهدې او مطالعې ته ئې د جمالیات (Aesthetics) نوم ورکړے او جمالیات ئې دیو بیل علم او فلسفې په نوم پیش کړو - ابوالاعجاز حفیظ صدیقي په کشاف تنقیدي اصطلاحات کښې د جمالیات او (Aesthetics) وضاحت د بام ګارټن په نسبت داسې کړے دے -

اُردو میں Aesthetics کا ترجمہ جمالیات کیا جاتا ہے. فلسفہ حسن و فن کیلئے اس یونانی لفظ Aesthetics

*لکچرار پښتو څانګه بلوچستان یونیورسټي کوټه
†اسټنټ پروفېسر پښتو څانګه بلوچستان یونیورسټي کوټه

*کومروجہ اصطلاحی معنوں میں سب سے پہلے جرمن فلسفی بام گارٹن(١٧١٤-١٧٦٤) نے استعمال کیایونانی زبان میں اس لفظ کے لغوی معنی ہیں ایسی شے جو مدرک بالحواس ہو۔[1]*

دغسې د حسن و جمال د تعریفونو سره سره د مختلفو نظریېو (Theories) و جود هم ممکن شو او د جمالیاتو د عالمانو نه علاوه مختلفو تخلیقي فنکارانو او شاعرانو هم دغه تعریفونه او نظرئې په خپله شاعرۍ کښې ځائے کول شروع کړل چې یو شاعراو دانشور په کښې غني خان هم دے۔ دغني خان تصور جمال او د جمال د مختلفو نظرئیو جاج مونږ دغني خان د شاعرۍ په رڼا کښې اخلو۔

## ١ حسن و عشق

د حسن مختلف تعریفونه شوي دي څوک وائي چې حسن په ترتیب او توازن کښې دے څوک وائي چې حسن د یوې مخصوصې خوشحالۍ او مسرت بخښونکي اثر نوم دے ۔ څوک وائي چې حسن د متضادو رنګونو په امتزاج کښې دے ۔ د جمالیاتو لوئے عالم سعید احمد رفیق د حسن د مفهوم په حقله نتیجه دا راوباسي چې دا یو داسې کېفیت دے چې سائنسي او جامد تعریف ئې هډو دسره کېدے نۀ شي ۔ هغه لیکي :

*حسن کو اکثر مفکرین نے قدر بالذات مانا ہے ان کے لحاظ سے حسن بذات خود ایک قدر ہے، نہ کہ کسی اور قدر کو حاصل کرنے کا صرف ایک ذریعہ لیکن حسن ہے کیا؟ یہ ایک ایسا مسئلہ ہے، جسکا جواب آسان نہیں حقیقت یہ ہے کہ لفظ حسن اپنے مفہوم میں اس قدر غیر واضح ہے کہ اسکی ایسی تعریف یا تشریح جس پر اگر سب کو نہیں تو اکثر مفکرین ہی متفق ہونا ناممکن ہے۔۔۔ ہم میں سے کون ہے جو حسن کے متعلق کچھ نہ کچھ جاننے کا دعویدار نہ ہو لیکن عملی طور پر ان خیالات کا تجزیہ کرنے کے بعد یہ بات واضح ہو جاتی ہے کہ نہ صرف ہماری معلومات ناقص ہیں بلکہ ہمارے خیالات بھی واضح اور صاف نہیں ہیں. مفکرین بھی اس مسئلہ میں نہ ایک دوسرے سے متفق ہیں اور نہ ہی اس گتھی کو سلجھا سکتے ہیں. بوزنکے(١٨٤٨-١٩٢٣) کے ان الفاظ سے اختلاف ممکن نہیں کہ (حسن کی ابھی تک کوئی ایسی جامع اور مانع تعریف نہیں کی گئی ہے جسکے متعلق یہ کہا جا سکے کہ اسے عام طور پر قبول کر لیا گیا ہے)[2]۔*

غني خان هم چې په خپله شاعرۍ کښې د حسن کوم مجموعي مفهوم وړاندې کوي د هغې خلاصه دا ده چې د حسن حدونه نشته د حسن تول هيڅوک نۀ شي کولے - حسن د يو داسې کېفيت نوم ګڼي چې دچا په ذهني وسعتونو کښې خو نۀ راځي البته د قلبي محسوساتو په دائره کښې ئې هم په يوه لامحدوده اندازه راځايوي او بيا ورسره دعشق د محرکې جذبې ګڼون هم کوي - غني وائي -

او تپوس د حسن مکوه
سمندر شي څوک تللے
څوک سپوږمۍ شي رانيولے
څوک زهرا شي ښکلولے[3]

او دغسې د حسن د لامحدود تصور سره د عشق د محرکې جذبې ګډون داسې کوي -

حسن پلار د مينې او مور دعشق
په کښې پټ دي ټول سپين او تور د عشق
د دۀ خيال نظر همه زور د عشق
په سرو شونډو لمبۍ ښکلے اور د عشق
دا بابا د سُر او سرور دے
دا تعبير د جلال او نور دے
دا مکه د سترګو خندا کښې
دا په هره کوڅه کښې طور دے[4]

په دغه شعرونو کښې غنی خان مينه د حسن نه زېږېدلې ګڼي خو هر کله چې د دې کېفياتو په اظهار کښې متضاد نظرئې هم وجود لري يعني ځينې دانشور حسن د مينې نه زېږېدلے يو اثر ګڼي نو ځکه غني خان د دغودواړو نظر ئيو څرګندونه کړې ده - او په يوه بله موقع ئې حسن د مينې د اثر نه تخليق شوے کېفيت ګڼلے دے هغه وائي -

مينه حسن جوړ کړي بيا پرې شي مينه مېئنه
مينه لېونۍ ده لېونۍ ده مينه مېئنه
بيا په سجده ټيټه شي درنه د ګلوونه
مينه حسن جوړ کړي بيا پرې شي مېئنه مېئنه [5]

## ٢ موضوعي او معروضي حسن

د حُسن د نظرئيو په لړ کښې موضوعي او معروضي دوه غټې نظرئې ډېرې مشهورې دي - موضوعي نظريه د داخليت ترجماني کوي او معروضي نظريه د خارجيت او يوه بله ډله داسې هم ده چې د حسن د موضوعي او معروضي نظرئې د ګډون او امتزاج په حق کښې ده - سعيد احمد رفيق د دغودوو غټو نظرئيو او ورسره د دريمې نظرئې څرګندونه هم په ډېر بليغ انداز کړې ده هغه ليکي -

حسن موضوعی ہے یا معروضی یا معدومن او موضوع میں ایک خاص تعلق یہ ایک اہم مسئلہ ہے اور مفکرین نے اس مسئلہ پر کافی بحث کی ہے حسن کے موضوعی نظریہ کا مطلب یہ ہے کہ حسن مشہود(عالم موجودات) کی صفت نہیں بلکہ شاہد، فنکار اور صانع کی کوئی صفت، ذھنی قوت یا نفسیاتی عمل ہے.

ایک شے بذات خود نہ حسین ہوتی ہے نہ قبیح. حسن او قبح کا حاصل وہ شاہد ہے جو ان اشیاء سے جمالیاتی تجربہ حاصل کرتا ہے حسن اس ذھن میں ہوتا ہے جو وقوف حاصل کرتا ہے اس آنکھ میں ہوتا ہے جو دیکھتی ہے حسن کے معروضی نظریہ سے یہ مراد ہے کہ حسن مشہود کی صفت، ایک جوہر کا نام ہے مثلاً جب ہم چاند کو حسین کہتے ہیں تو معروضی نظریہ کے روسے اس کا مطلب یہ ہے کہ چاند میں ایسی صفت یا صفات موجود ہیں. جن کی بنا پر چاند کو حسین کہا جاتا ہے اور چاند میں حسن کی موجودگی کا اس کے مشاہدے سے کوئی تعلق نہیں حسن کے تیسرے نظرئے کی رو سے حسن نہ معروضی ہے اور نہ موضوعی بلکہ جب معروضوع (مشہود او شاہد) میں ایک خاص تعلق اور رشتہ پیدا ہو جاتاہے تو حسن کی تخلیق ہوتی ہے، یعنی حسن موضوع اور معروض کے درمیان ایک خاص تعلق کا نام ہے۔ [6]

پروفېسر ډاکټر اقبال نسيم خټک صاحب د موضوعي او معروضي نظرئې د امتزاج قائل دے - ډاکټر صاحب دغه دواړه نظرئې د اشتراک او امتزاج نه بغير نيمګړې او ناقصې ګڼلې دي - هغه په خپل کتاب ،، خوشحال او جماليات،،کښې ليکي :

،، د حسن د موضوعي او معروضي نظرياتو ټول مکاتب وفکرد نقد و نظريه زرکاڼې د سنجولو نه پس مونږ په دې نتيجه رسو چې په دې کښې هره نظريه او دهرې

نظرئې هرمکتب فکر په څۀ نۀ څۀ اعتبار نیمګړے او ناقص دے ـ دې د پاره دوئې کښې یوته نه جامع او درست وئیل نۀ دي په کار ـ دې کښې هېڅ شک نۀ شته چې حسن په خارج کښې هم وجود لري او معروضات هم ښکلي وي خو د دوئې د مشاهدې نه لطف وسرور حاصلول د حواس و قلب د حسن نه بغېر ممکن نۀ دي،،[7]

مونږ که ددغو دوو نظرئیو په رڼا کښې دغني شاعرئ ته وګورو نو راته څرګندیږي چې هغه د درېمې نظرئې یعني د موضوعي او معروضي د امتزاج په حق کښې دے ځکه چې هغه کله خو د موضوعي حسن خبره کوي او وائي ـ

اے زما مغرو ره یاره
زۀ خالق ستا د جمال
دایم زۀ چې کله ګل شم
کله نور کله وصال
کله اورستا د سروشونډو
کله ستاد زنې خال
اے زما دمینې جوړې
ستا کمال زما کمال [8]

د موضوعي نظرئې په لړ کښې دهغۀ دا شعرونه هم مونږ پیش کولے شو۔

زۀ یم زۀ یم رنګ سرور اور او شرنګار زۀ یم
د جانان سترګو کښې مړاوے خمار زۀ یم
دا زما زړۀ چې دخېشت او رنګ شي وړے
سپرلے سرۀ ګلونه راشي بهار زۀ یم
دا چې زۀ شم دمسکو شونډو لېواله
لېلا جوړه کړم دحسن معمار زۀ یم
دا خو زۀ د ځیګر سوز په هوا سور کړم
روح، مطلب، معنی اواز دستار زۀ یم
چې زۀ نۀ یم بې معنی جنت اسمان دے
د جهان دسوز او مینې مختار زۀ یم [9]

غني خان کله په خپله شاعرئ کښې د معروضي حسن تائید کوي او وائي ـ

حسن حسن لټومه
که په غروي که په سمه[10]

دې نه علاوه په خپل يو بل نظم کښې دمعروضي حسن تائيد داسې کوي -

ستا د ښائست ثاني دنيا کښې نۀ شته
هر چاته خپل جانان لېلاښکاري
ستا د رفتار او کړۀ او وړۀ په مخ کښې
دا ښاپيرئ دا هوسئ شلې ښکاري
تۀ په خزان کښې د بهار رېبار
تورو تيارو کښې د سبا ستورے
تور بيابان کښې د لاله ښکلے ګل
ماته د حسن لوئے جهان ښکاري
که ټول جهان دښاپيرو ډک شي
واړه به ښې وي ستانه ښۀ نۀ شته[11]

ددې مطلب دا شو چې غني خان د ټولونه د موثرې او زړۀ ته پرېوتونکې نظرئې يعني دموضوع او معروض د امتزاج قائل دے - او ځکه د موضوعي اومعروضي دواړه نظرئيو تائيد ئې دشاعرئ نه کيږي -

## ٣ حقيقي حسن

حسن حقيقي دے، لافاني دے او هيڅ زوال نۀ لري دا داسې خبرې دي چې د حقيقي حسن څرګندونه کوي - د تصوف شاعرانو يا صوفيانودا جذبه د عشق حقيقي يا حسن حقيقي په نوم پيش کړې ده - د دې نظرئې خلاصه دا ده چې حقيقي او لازوال حسن د خالق حقيقي دے او د کائېناتو ټول حسن وجمال د دغه حقيقي حسن اظهار او تاثردے -
پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک صاحب دغني دحقيقي حسن تصور او عشق په حقله په خپله يوه مقاله کښې ليکي :-

رردغني خان جمالياتي ادراک کله کله هغه له مجازه ډېر لرې د حقيقت تر بامه ورسوي - دهغۀ قوي تصور چې د اب وګل دمجازي حسن نه پورته شي نو د عشق يو داسې منزل ته د رسېدو هڅه شروع کړي چې دحقيقي حسن سره د وحدت يو مقام شي هغه دخپل وجود د فنا په راز خبرشي او د معرفت ترحدونو ورنزدې شي - په دغه مقام چې دزړۀ سترګې بيناشي نوټول کائېنات د ازلي حسن يوه اکائي شي د تېرې او رڼا فرق ورک شي او دخپل رسا عشق له کېفيته هغه د وجود په

هره اشاره کښې یوعلامت ویني او دغه علامت د ابدي ښائست داسې پرده شي چې پورې ترې عاشق ته د عشق مقام هم برېښي او دښائست رازونه هم ،،[12]

غني خان د حسن د تصور ښودلو په وخت د دغه حقیقي حسن د جلوو څرګندونه هم په خپله شاعرۍ کښې کوي اودغسې د کائېناتو حسن د یو لافاني حسن تاثر ګڼي هغه وائي -

په دې زړۀ کښې مې پټ پروت
یو تصویر دے د جانان
داسې حسن عجیبه دے
چې ئې نۀ کیږي بیان
دهر چا د سترګو پټ دے
خوښکاریږي هر زمان[13]

د لافاني حسن په حقله د غني خان دا شعرونه هم وګورئ :

اے د لېونیا نو نیکۀ نمونځ ښۀ که مستي ښۀ ده؟
حسن جوړېدل ښۀ دي که حسن پرستي ښۀ ده؟
وې ښه ده مستي ښه ده خو زړۀ پاک لکه ائینه غواړي
دا دریاب هفمول د سمندر هومره سینه غواړي[14]

غني خان په یوه بله موقع د لافاني حسن په حقله وائي :

اے دحسن او نور دریا به ماله یو ټکرے دنور را
سترګې ډکې د خندا را شونډې ډکې دسرور را
زۀ دې خپل وړوکي زړګي له یوه نخښه دیار غواړم
اے دحسن او نور دریابه ماله یوټکرے د نور را[15]

ډاکټر حنیف خلیل د غني خان دلافاني حسن تصور په حقله په خپل کتاب ررد ښکلا هینداره،، کښې لیکي -

د غني خان د حسن په تصور که غور وکړے شي نو هغه په وروستۍ مرحله کښې د دې قائل دے چې انسان د خالق د حسن نه نور اخستے دے او د دۀ حسن له هم لکه د خالق د حسن زوال نۀ شته او دا تصور د قران د ایتونو ررلَقَد خَلَقناَ الانسانَ فِی اَحسنِ تَقَوِیم،، او مَطرت اللهِ التي فطرَالناس عَلَّیهاتفسیر هم کېدے شي -

په مجموعي لحاظ د غني خان د شاعرۍ مرکزي نقطه هم دغه د حسن تصور دے د دغه تصور په شاعرۍ کښې د اظهار له مخه د غني د جمالياتي فکر په احسنه توګه څرګندونه کېدے شي.[16]

د حنيف خليل د دغه تاثر تائيد د غني خان د دې شعرونو نه په اسانه کېدے شي۔

دومره ښکلے دے زما جانان ښيسته
چې د يدن ئې کړ زما ايمان ښيسته
نور يار مې تش په تن باندې ښيسته ؤ
د دۀ حسن کړ همه جهان ښيسته
دے جادو د دوو سترګو مينه ناکو
لېوني ته هم ښکاره شو ځان ښيسته[17]

## ٤ د حسن ځانګړے تصور

د پښتو کلاسيکي او جديدې شاعرۍ که مونږ ژوره مطالعه وکړو نو په دغه شاعرۍ کښې دپښتنو دمخصوص جمالياتي مزاج ډېر واضح څرګندونه په نظر راځي دې سره سره د پښتو اولسي شاعرۍ کښې هم ددې ډېرې واضحې نخښې موجود دي۔ د پښتنو جمالياتي مزاج ترڅۀ حده د نورو قامونو نه مختلف او منفرددے چې زما په خيال دا د يو قام او اولس يوه فطري غوښتنه هم ده او په تېره تېره د هرباشعوره او سترفنکار د فن تقاضه هم۔ دپښتنو د جمالياتي مزاج په حقله ښاغلے قېصر افرېدے په خپل کتاب ،، جماليات يو نظرياتي جاج،، کښې ليکي :

د قومونواو اولسونو په اوسنۍ پرېمانه نړۍ او د دې په مجموعي لړۍ کښې پښتانۀ هم يو داسې قوم، داسې اولس او يوه دسې نسلي اولساني لړۍ ده چې د خپلو نسلي غوښتنو او ژوند پالنو احتياجي ذرائع او وسائل ئې د نړۍ د نورو اولسونو نه مختلف کېدے شي۔ دهغې د استعمال طرزونه او اساليب ئې په بل او بدل رنګ کښې ليدل کېدے شي۔ د انساني ژوند بقا او تسلسل چې مونږ او تاسو د افاديت په افهامي نامه پېژندلے دے هم ددې نه د قومونو او اولسونو جمالياتي مزاج متعين شوے او راجوړ شوے دے هم دا هغه څيز دے چې د څيزونو د انتخاب، تحسين او ترديد په وخت د بنيادم د لرې نفسياتي پس منظر نه د بجلۍ د برېښ په شان راپورته کيږي او متعلقه څيزونه د خپل تحسين او تجميل په ځريکو روښانه کوي۔ د پښتنو جمالياتي مزاج هم د هم دغه اولين بشري مقصداو اراديت مرهون منت

> دے او د خپلو ټولو ثقافتي او تخليقي سرګرمو او مظاهراتو نه زمونږ په دغه ويژن دخپل تائيد او تصديق رڼا غورځوي۔ [18]

دښاغلي قېصر افريدي دپورتنۍ حوالې نه پس اوس مونږ د غني خان د حسن ځانګړي تصور او دهغۀ په ځانګړي جمالياتي مزاج باندې هم دلته لنډه بحث کوو او ورسره د هغۀ د شعرونو يوڅو نمونې هم وړاندې کوو۔ دا خبره واضحه ده چې حسن ديو افاقي تاثراو کيفيت نوم دے خوهر کله چې دحسن د موضوعي نظرئې په ضمن کښې وئيلے شوي دي چې دا د خپل مزاج او داخلې تاثر نتيجه هم کېدے شي نو دا خبره هم جوتېږي چې په دغه داخلي تاثر او خپل مزاج کښې د خپلې خاورې، سماجي محرکاتو او خپلې سيمې د جمالياتي اثراتو نتيجه هم شامله وي او غني خان هم دحسن د افاقي تاثر سره سره دخپل مخصوص مزاج ترمخه هم د حسن منفرد تصور پېش کوي د دغه منفرد تصور نور وضاحت د ډاکټر اقبال نسيم خټک صاحب له دې خبرې نه هم کېږي چې وائي :۔

> ,, دا هم يو حقيقت دے چې د هرې سيمي دخلقو دحسن يو جدا معيار او ماډل وي په دي کښې جغرافيائي ، سماجي، معاشي او مذهبي عوامل ډېر لوئے لاس لري ـ د ايشيا د خلقو د حسن تصور د يورپ نه جدا دے او بيا د افريقې د صحرا او د خط استوا نه د چاپېره ملکونو د اوسېدونکو دحسن تصور د ټولې دنيا نه جدا دے ـ ځکه وئيلے شي چې د حسن څۀ داسې ټاکلے معيار نشته چې په عالمي سطح اومنلے شي بيا دا چې په انساني مزاجونوکښې هم فرق وي يوشے يوبنده ته خوحسين ښکاري او بل ته نۀ ښکاري ـ دغه شان د عمر په يوه مرحله کښې بنده ته يوشے حسين ښکاري او د عمر په بله مرحله کښې هم هغه شے ورته حسين نۀ ښکاري ـ،،[19]

د غني خان د لانديني شعرونو په رڼا کښې د هغۀ د دغه مخصوص تصور رنګ وګورئ چې په کښې ئې دخپلې پښتنې خاورې او خپل پښتون ماحول په مجموعي اثر د حسن ديوځانګړي او مخصوص تصور بنياد ايښے دے ـ هغه وائي :۔

مالېدلي د فرنګ ښکلي جيزونه
چې د لاندې ترې غورزنګ وهي سيندونه
مالېدلي محلونه د لندن
جينکۍ مستې ازادې ګلبدن
مالېدلي د اټلي ښائسته ښارونه
سرۀ ئې انګور سرۀ ئې شراب سرۀ ئې ګلونه

مالیدلي د پېرس ښاپېرۍ ښکلې
مالیدلي امریکه کښې دي ښارونه
چې ورئیحوته ئې رسي مکانونه
په کردار گفتار خوږې لکه بلبلې
مالیدلي امریکه کښې دي ښارونه
چې وریځوته ئې رسي مکانونه
مالیدلي تاج محل غوټۍ د گلو
د ډیلي ښکلي ښارونه دمفلو
خو چېووینم زۀ خپل د خټوکور
رانه هېر شي محلونه ښیسته نور
دا نرۍ تنگې کوڅې زما د کلي
ورته څۀ دي د دنیا ښارونه ښکلي
چې خړمخے ورور پښتون سپنې له درشي
درنه هېر به ټول ښائست د بحرو برشي
خدایه شکر چې پیدا دے له دې قام کړم
دپښتون د نر وجودې یوا ندام کړم
څۀ به کړمه د لندن لوئے محلونه
د پېرس جونې ښیسته رومي گلونه[20]

## ۵ خلاصه او نتیجه

د ذکر شوو حوالو، شعري نمونو او بحث په رڼاکښې مونږ ته د غني خان دحسن یو واضح تصور په نظر راځي او دا جوتېږي چې غني خان په وړومبۍ مرحله کښې د فطرت ښائست سره سره د انساني حسن کړۀ وړۀ څرگندوي - دغسې هغه دخپلې شاعرۍ په ذریعه د حسن د مختلفو نظرئیو ترجماني هم کوي او دحسن د تصور یو تدریجي او ارتقائي عمل هم وړاندې کوي د مادي حسن د جلوو نه پس د خپل ارتقائي عمل ترمخه هغه په وروستۍ مرحله کښې حسن په معنویت کښې لټوي او دحقیقي حسن تصور وړاندې کوي د حقیقي حُسن تصور وړاندې کولو په وخت د غني انداز ډېر منفرد دے هغه د خالق حقیقي حسن سره د خپلې مینې د اظهار نه پس چې د حقیقي حسن کوم رنگ پیش کوي د خپل داخلي رجحان ترمخه ئې په ځانگړي انداز پیش کوي - مونږ په لنډه توگه دا وئیلے شو چې د موضوعي حسن او معروضي حسن دواړو د اظهار په وخت غني خان خپل ځانگړي جذبات لري - او د اظهار ځانگړے

انداز او روئيه هم ـ البته د هغهٔ د افکارو په رڼا کښې مونږ دا وئيلے شو چې غني دمعروضي حسن د ستائېنې باوجود د موضوعي نظرئې زيات مرستيال ښکاري او دحسن د احساس په وخت دخپل داخلي حسن په استعمال زور راوړي او ورسره د پښتني حسن يومخصوص نظر او انفرادي تصور هم پيش کوي دغسې هغه مونږ په پښتنو دانشورانو کښې يو ډېر جوت او د منفرد اسلوب جمالياتي شاعر او يوښکاره جمال پسند ګڼلے شو ـ

# حوالې

[١] صديقي، حفيظ، ابولاعجاز، کشاف تنقيدي اصطلاحات، مقتدره قومی زبان اسلام آباد، طبع دوم ستمبر ١٩٨٥ء صـ ٦٤

[٢] رفيق، سعيداحمد، حقيقت حسن، قلات پبليشرز کوئټه، ١٩٧٩ء صـ ٢٧

[٣] عبدالغني خان، د پنجرې چغار، يونيورسټي بُک ايجنسي پېښور،١٩٥٦ء وړومبے چاپ، صـ ٤١

[٤] ايضاً صـ ٤١

[٥] ايضاً صـ ٢٠١

[٦] رفيق، سعيداحمد، حقيقت حسن، صـ ٤١

[٧] نسيم خټک،محمد اقبال، ډاکټر، خوشحال او جماليات، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ١٩٨٧ء، صـ ١١٧ تا١١٩

[٨] عبدالغني خان، د پنجرې چغار، صـ ١٩٦

[٩] ايضاً صـ ٨٠

[١٠] ايضاً صـ ١٤٦

[١١] غني خان، د غني لټون، فرنټيئر پوسټ پبلېشر پېښور، ١٩٩٥ء، صـ ٢٦

[١٢] خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، غني خان شخصيت فکروفن، مشموله مياشتنی پښتو غني خان نمبر، جنوري ـ اپريل ١٩٩٧ء صـ ٢٣

[١٣] غني خان، دغني لټون، ٨٤صـ

[١٤] غني خان، د غني کليات، د قومونو او قبائلو وزارت د نشراتو سياست، ١٣٦٤ش، ١٩٨٥ء صـ ٦١٦

[١٥] ايضاً صـ ٦٢٥

[١٦] خليل، حنيف، د ښکلاهېنداره، دانش کتب خانه قصه خوانی پېښور ١٩٩٨ء صـ ٤٣،٤٤

[١٧] غني خان، د غني کليات، صـ ١٧٥

[١٨] اپرېدے، قېصر، جماليات يو نظرياتي جاج، جرس ادبي جرګه کراچی، مئ ٢٠٠٧ء صـ ٨٨، ٨٩

[١٩] نسيم خټک، ايم اقبال، ډاکټر، د رنګ او بوقافله، اداره علم وادب پاکستان پېښور، جولائي ١٩٩١ء صـ ٦٠،٦١

[٢٠] غني خان، د غني کليات، صـ ١٦٤